مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۳/۱۲/۲۴

# رنګینه که سپېره ښاپېرۍ؟!

ما ته په ادبیاتو کې تر ټولو سخت کار بې پرې نقد دی؛ ځکه چې اوس د ګوتو په شمار خلک سم ادبي نقد کوي، ځینې یې فقط ستاینې لیکې او بعضې د انتقاد په نامه خپله شخصي کینه پالي.

دا کیسه خو هغه مهال سخته شي، چې د یو اشنا کس د کتاب په ځانګړنو او بدګنو کرښې لیکې، که ادبي جرأت کوې او د پنځونې نیمګړې خواوې یې ور په ګوته کوې، نو ویره وي، چې یار خفه نشي او که یوازې ستاینو ته زور ورکوې، نو خلک له لرې پوهېږي چې انډیوالي یې سره پاللې ده.

خواخوږی ادیب او ژورنالیست (محمد طارق بزګر) هغه څوک دی چې تل یې زه هڅولی یم، د وطن په تیارو حالاتو کې یې رانه څراغونه راښودلي او د یو نېردې ملګري په څېر یې زما د ټولې کورنۍ په اړه راته نیکې هیلې وړاندې کړې.

که له ده سره زما شخصي اړیکي څخه را ووځم، نو ښاغلی بزګر تکړه ژورنالیست او لیکوال دی، چې په تنها ځان له کلونو کلونو راهیسې د دعوت په نوم مجله او د دعوت میډیا په نوم وېبپاڼه چلوي.
د دې ترڅنګ خپله هم ښه لیکل کوي او ځینې وختونه یې د لنډو سیاسي تبصرو په خوا کې د بعضو ادبي لیکنو خبر هم راشي.

د کیېف افغانه ښاپېرۍ هغه ناول دی، چې د انګلیسي او دری ژباړو ترڅنګ ښاغلي بزګر دوه ځله په ۲۰۱۹ او ۲۰۲۳ کلونو کې پښتو ژبه باندې چاپ کړ.

لومړی ځل له هېواده بهر چاپ شو، چې دلته پیدا کول یې د (مرغۍ پۍ) شوې؛ خو سږ کال په وطن کې هم چاپ او نشر شو، چې دا دی زما تر لاسونو را ورسېده او ښه په نخرو مې ولوست. په نخرو ځکه چې د کور سرپرست یم؛ پوهنتون، کورس، وظیفه، غم، ښادي، یو درجن نور مصروفیتونه او په اخیره کې بې برقي هغه څه وو، چې څو ځله یې د کتاب په اړه نقد لیکلو کې پاتې راوستم.

نو وړاندي له دې چې تمهید ډېر اوږد کړم، د ناول په اړه به ځینې نقد ډوله کرښې در وړاندې کړم، چې زه یې د نقد پرځای خپل تاثر بولم؛ ځکه نقد خپل ځانګړی چوکاټ لري او د ادبي چوکاټونو محدودیت زما ساه بندوي.

که څه هم لیکوال ویلي چې دا ناول یې د یوې رښتیني کیسې پر اساس لیکلی، چې دا خبره یې ناول له نقده ازادوي؛ ځکه د حقیقي پېښې او کیسې په اړه څوک دا نشي ویلی چې ولې داسې وشول؟ خو مشهور ناول لیکوال (ګبریل ګارشیا مارکېز) به ویل چې ما هره کیسه د یوې رښتینې پېښې پر بنسټ لیکلې چې له همدې امله موږ ته په دا ډول ناولونو هم د نقد جواز راکوي، ځکه خو به یې زه هم د پښتی له انځور او د ناول نوم څخه را پیل کړم:

سره له دې چې (د کیېف افغان ښاپېرۍ) ناول د یوې بدبختې ښځې کیسه ده او موږ ته د خپلې ټولنې سپېره اړخونه رانښیي، بیا هم د پښتۍ انځور کې له ګڼو ژورو او تازه رنګونو کار اخیستل شوی.

د پښتۍ ډېره برخه رنګ ابي، زرغون او سور دی، چې له یوه اړخه پرې نیوکه کېدلی شي، ځکه ابي رنګ تر ډېره د ژوند، ارام او زرغون د سمسورتیا رنګ دی. ښه به وای که د ابي رنګ ترڅنګ تور او خړ رنګونه کارول شوي وای؛ خو که لیکوال دا په نظر کې نیولي وي، چې ځان پلورونکي نجلۍ تل خندانه وي او حسن یې ټوله نړۍ ویني،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په څیر و لولئ

یعني ظاهراً یې ژوند رنګین وي، بیا سم دی. دا ښېله خبره ده چې د هغې اوښلنې سترګې د یو وحشي ماحول ترجماني کوي.

د پښتنې انځور کې د یوې نجلۍ نیم مخ وینو، چې پخه سرخي یې وهلې او په ابې ډوله سترګو کې یې اوښکې ځلیږي. همدې دوو ځانګړنو ما ته د مشهور اردو ژبې لیکوال (سعادت حسن منټو) د طوایفو په اړه لنډې کیسې را یادې کړې چې له مجبورۍ ورځې به یې ښځکه سپېرې شونډې د پردیو هوسونو سرولو لپاره په سرخي رنګینې کړې؛ مګر چې کله به شپه شوه او دې به د ورځې په ستومانۍ سوچ وکړ، نو سترګو کې به یې ډنډ اوښکې وځلېدې.

ترڅنګ یې د خپلې مور یوه شین سترګې خپلوانه را یاده شوه، چې ټول کلي کې ورسره چا خپلوي نه کوله، ځکه چې هغه خواره د سره انقلاب پر مهال کابل کې پیدا شوې وه او کورنۍ یې هجرت نه و کړی. ټولو نجسو خلکو به ورپسې خولې خلاصې کړې وې او د شورویانو لور به یې ورته ویل.

که د پښتنې انځور کې د ابي سترګو پرځای زرغون رنګ کارول شوی وای، نو فکر کوم چې لا زیات ښه به راتللی. دوهم بحث د ناول پر نوم کوو. زه ټل د داسې نومونو خلاف یم چې د ناول پوره یا نیمه منځپانګه ترې معلومه شي. هر وخت مې مثبت ابهام ایجادونکي نومونه خوښ دي.

د (کیيف افغانه ښاپیرۍ) داسې نوم دی چې یو عادي لوستونکي ته وار له واره پوښتنې زېږوي. مثلاً: کیيف لا څه بلا ده؟ که ځای دی نه کوم ځای دی؟ که شی دی نو څه شی دی؟ ښه بیا ښاپیرۍ څوک ده؟ نوم دی که صفت یې کړی! حتی ځیرک لوستونکی هم حیرانولی شي چې ښه نو په کیيف کې افغانه نجلۍ څه کوي؟ څه ورسره شوي او ښځګه کیسه به لري؟

په دې معامله کې د اروابناد نصیر احمد احمدي نوم د یادولو وړ دی، چې ناولونو ته یې ټل ښه او پارونکي نومونه ټاکلي وو.

په دوهم قدم کې د ناول پر متن، نثر او د لیکلو ژبې غږیږو:

پښتو ادب ته د نړیوالو ژباړو راتلو یو تاوان دا وکړ چې زموږ له لیکوالانو یې خپله سوچه ژبه واخیسته او اوس هغوی د نړیوالو ادیبانو پیښې کوي، چې دغه پیښې ورته ډېرې ګرانې تمامې شوې، ځکه نه یې د هغوی ادیبانه روح خپل کړ او نه یې خپلې کربنې خپلې پاتې شوې.

تېره ورځ مې یو ناول لوسته، بېخي داسې مې احساسوله لکه په ګوګل ټرانسلیټ ژباړل شوې ټکي په ټکي ژباړه چې لولم.

خو دا ناول بالکل داسې نه دی، د پښتو ځینې داسې عام، کره او سیمه ییز الفاظ پکې کارول شوي، چې ما ډېر وخت وروسته ولوستل او له هر ځل ویلو سره مې یو ډول خوند ترې اخیسته. ترڅنګ یې بعضې ښه ترکیبي لغتونه هم سره یوځای شوي، چې د ناول ژبې ته یې ښکلا وربښلې.

د ناول متن راټول، په برابرو پراګرافونو وېشل شوی او تر ډېره د محاورې په ښه دی. جملې پکې لنډې او برابرې را اخیستل شوي، چې داسې ترې محسوسیږي، لکه لیکوال چې بېړه کې وي؛ خو دا خبره ګوندې دا معنا نلري چې یادې جملې بې ګټې او پرې پرې دي! بالکل داسې نه ده او هره جمله په ځان کې پوره دنیا لري.

نثر یې له ښایسته لغتونو او جملو مالامال دی؛ خو ښېګڼه یې دا ده چې تکراري جملې نه لري، یوازې څو ځایه د ځینو ضمیرونو او ربطي تورو تکرار سترګې کوونکی دی، چې له هغې ډلې په یوه جمله کې درې درې ځله زه، او، په ډېرو نورو مخونو کې د هغه، هغو، همدغه او... تکرار یادولی شو.

د لیکلو ژبه یې له ناوله زیات یو راپور تاژ او راپور لیکنې ته ورته دی، چې د دې اغېز لامل هم ممکن د لیکوال ژورنالیست اړخ وي. بله دا چې ناول هم تر ډېره د سوال او ځواب شکل کې دی، نو حتماً به یو څه راپورتاژ ډوله بوی ترې راځي.

په ټوله کې د ناول املا ښه ده، خو ځینې ځایونه د ټایپینګ واضحې ستونزې لیدل کیږي او بعضې ځایونه پنځه ګوني یاګانې سمې نه دي کارول شوي. همداراز څو داسې کربنې هم شته چې د فاعل لپاره پکې د یو (و) پر ځای (وو) کارول شوي، چې درست نه راځي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ناول په هر اړین ځای کې د پښتو ژبې اکثره لیکنښې په خورا مهارت سره استعمال شوې دي، خو زه تر اوسه نه پوهېږم چې د محاورو پر مهال ولې د ډش (–) پر ځای د جمع علامه (+) کارول شوې؟

همدا راز د ناول له پیله تر پای د صفحې په پای کې ځینې وضاحتونه را ته اضافه او لوستونکی له اصلي موخې (ناول لوستنې) څخه غافله کوونکي راته وبرېښېدل. که دا یو معلوماتي، جغرافیوي او یا تاریخي ناول وای، بیا یې باک نه کاوه.

د ناول سوژه خورا نوې او سوچه ده، داسې نه ښکاري لکه بل ځای نه چې اخیستل شوې وي. یو نیږدې ملګري مې په ناول پیل کړی و، چې نیمایي مې ولوسته، نو مالې عزیزه! خفه نشې خو دا ناول دې د (پانه ورژېده) ناول کاپي ده!
(د کییف افغانه ښاپېرۍ) یوه داسې کیسه ده چې پښتو ادب کې کله نه ده تکرار شوې او د همدې نوښت اعزاز یې بس دی!

د ناول پلاټ لنډ، محدود، له ښو کرکټرونو، جغرافیو او محاورو جوړ دی. د افغانستان د ښو ولایتونو لنډه یادونه پکې شوې او د کییف یو کافي شاپ پکې انځوریز شوی.

لیکوال خپل ټول هنري زور او د منظر کشۍ طاقت د مرکزي کرکټرونو په لومړۍ لیدنه کې ازمایلی او بیا یې دا اړتیا نه ده لیدلې چې په دې لنډ ناول کې کومه اوږده منظر کشي وکړي.

ناول که څه هم د خبرو اترو په بڼه دی او ډېر دار و مدار یې په دوو کرکټرونو دی، مګر دوه داسې صحنې هم پکې شته چې مرکزي کرکټر د دریمګړي رول لوبوي او خپل نظر راته وړاندې کوي، چې ښه بېلګه یې د (د داخلي جګړو یادونه ده) پکار خو دا وه چې دغه کرښې هم د یو کرکټر له خولې هوبهو لیکل شوې وای. ځکه دې ناول کې د دریمګړي بیان ته اړتیا نشته.
ناول له ځینو لنډو غوټو جوړ دی، دا چې: نجلۍ ولې فاحشه شوې، اولاد یې له کومه شو، واده یې کله وکړ، کییف ته څنګه راغله، کورنۍ یې چیرې او اصل نوم یې څه شی دی؟! دا ټولې هغه پوښتنې دي، چې لوستونکی پسې اخلي او دې ته یې نه پرېږدي چې ناول بند کړي.

د ناول په لنډو کرښو او خبرو کې لوستونکي ته لېوالتیا پیدا کیږي او دا یوه پوښتنه یې چې (ښاغلیه ته خو به افغان او مسلمان نه یې؟) تر اخیره ځان سره وړي

په ناول کې ځای ځای د بدو رواجونو، ټولنیزو ستونزو او لویې ناخوالې (جګړې) په اړه لنډ لنډ پیغامونه هم تر سترګو کیږي او د همدغو صحنو یادونه سړي ته خپله ماضي وریادوي. وریادوي چې ګلورین افغانستان ولې په اور وسوځېده او څنګه یو لوی افغان نسل د تباهۍ تر خولې ورسېده؟!

د ناول په پیل، پای او اوج که خبره وشي، نو پیل یې د روایتي ناولونو په څېر له منظر کشۍ کیږي، خو د مرکزي کرکټرونو لومړۍ لیدنه یو څه ډېره ډرامایي ښکاري. په پیل کې د کرکټرونو د ځانګړنو بیانول، منځ کې محاورې او پای کې د وروستیو سوالونو ځوابېدل د یو بشپړ ناول خصوصیت دی، چې دې ازموینه کې ښاغلی بزګر بریالی وتلی دی.

یوه نقطه چې زما پام یې ځانته واړاوه دا ده چې ولې لیکوال د ناول په لومړي سر کې ښو بیتونه مسلسله بڼه باندې راوړي؛ خو وروسته یې درک هم نشته؟!

دوهمه دا چې ټول کتاب ۱۲۷ مخونه لري، چې ۳۱ مخونه یې ۵ سریزو او وروستۍ صفحه بیا د کتاب ځانګړنو نیولې ده، یعنې ټوله کیسه په ۹۵ مخونو کې لیکل شوې. ما ته دا معقوله ښکاره نشوه چې د یو دومره وړوکي ناول لپاره چې اصلاً ناول نشو ورته ویلی او باید د ادبي تعریفونو له مخې یې ناولټ وبولو؛ ۵ سریزې ولیکل شي!!
د سریزو ډېره اړتیا ځوانو لیکوالانو او څېړنیزو اثرونو ته وي، چې باید له وروستۍ غوټې پرته یې نچوړ ولیکل شي، ښو کتاب لوستونکو ته لا زیات جالب او له تلوسې ډک شي.

په دې کتاب باندې یوازې د اغلې درخانۍ سریزه هم بس وه او که هغه هم نه وای باک یې نه کاوه، یوازې د لیکلوال یوې سریزې چې د خپلو کرښو د لیکلو په اړتیا، ګټې او شالید غږېدلی وای، بسنه کوله.

د دې کار ګټه به دا وای چې د ناول حجم به له ۱۰۰ مخونو نه ډېرېده او بیه به یې نوره هم کمه شوې وای، چې اخیستل به یې هر چا ته نور هم اسانه وو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

زمونږ د سريزو دود زما هيڅ نه خوښيږي، لامل يې هماغه د نقد په څېر له حده زياتې ستاينې دي. ما د کتاب په دوهمه سريزه کې د ژبه ور اديب (عبدالمالک بېکسيار) ليکل وليدل، چې پيل يې داسې کړی و: «لاندې څو کرښې ما د خپل دوست، ملګري او ورور تولمنلي ژورناليست او ليکوال د دعوت رسنيز مرکز مشر ښاغلي محمد طارق بزګر پر ليکلي کتاب...»

اوس په دې متن کې د بزګر صيب ۸ ځانګړنې بيان شوې، چې له هغه نه د يو ناخبره او نا اشنا لوستونکي لپاره حتماً ستړې تماميږي. زه بزګر صيب پېژنم، ښېګڼې او ما سره کړې/ کېدونکې خواخوږۍ يې هم را معلومې دي، خو په يوې سريزې کې دومره اوږدې ستاينې ته څه اړتيا؟ دا خو څه د فيسبوک تحليل يا د خاطرو ټولګه نه ده!

بله خبره زمونږ د ناولونو د حجم په اړه کېدلی شي، زه تر ننه حيران يم چې ولې مو ادبي فورمونه او ژانرونه ورځ تر بلې د لنډون خوا ته روان دي؟ که خبره دا وي، چې: خلکو سره وخت نشته او هر تن اوس له ۱۰ کرښو زيات څه نشي لوستلی، نو بيا څنګه ۱۰۰ قسطه بهرني سيريالونه ګورو؟!

زما په فکر که ليکوال قلم کې زور ولري، نو حتماً په يو لوی قالب کې هم کيسه په خورا هنريت سره وړاندې کولی شي، چې هيڅوک به ورسره خسته نشي او د لا غځېدا هيله به يې ولري.

د ښاغلي بزګر صيب کيسه ډېره نوې، له پيغامونو او هدفه ډکه ده؛ خو کاش لږ نوره هم اوږده وای، چې د ناولټ پر ځای مو ناول ورته ويلی شوای.

زه دی نه ګرموم چې ولې يې ناول ژر خلاص کړی، ممکن د ده کيسه تر همدې ځايه وه او په لوی لاس اوږدوالي يې بېخوندي رامنځته کړې وای، خو دا اوس زمونږه يوه عمومي ستونزه جوړه شوې، رومان او داستان خو هيڅوک نه ليکي، سيريال او ډرامه هم ټولو څخه هېره ده، ناول مو د ناولټ تر کچې لنډ کړی او لنډې کيسې ته خو مو قسم کړی چې له يو مخ به يې وا نه ړوو! ډارېږم چې لنډ وخت کې دوه او درې کرښې کيسې را و نه وځي!!

خلاصه دا چې (د کييف افغانه ښاپېرۍ) له ښکلو الفاظو، هنري جملو، ډيرې تلوسې، د ماضي له ترخو، د رنګينيو شاته پټ سپېره بخت او د يو رسالت پرست ژورناليست له اوښکو ډک ناول دی، چې لوستل يې هر افغان ته لازمي او ګټور بولم.

له ښاغلي بزګر څخه د همداسې غوره پنځونو تمه کيږي.

لاس په دعا يم چې رب دې ښاد او هوسا لري!

په پښتني مينه!
سمسور ودان




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ